وهمچنان شما را است علی سالیان جسیم / تا بر مردم گواه باشید و پیامبر صلی الله علیه وسلم بر شما گواه باشد

(٤) صفحه

# شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

نمبر مسلسل (١١٠٧) سال هژدهم شمارهٔ (٤) سه شنبه (٦) حمل
١٣٧٥ هـ ش (٧) ذي القعده (١٤١٦) هـ ق (٢٦) مارج ١٩٩٦ م


### الهی لاربلوونی

ووایه : نوتاسی ! دحقیقت پرخلاف تگ کوولونه ) و ده نکوئی ! په دغو صفتونو سره خو همدا الله ستاسی حقیقی رب دی . نوله هغه وروسته له گمراهی پرته نورڅه پاتی شول ! بیا نو تاسی کرمه خواته اړول کیږی ؟(ای پیغمبره ! وگوره ) په دغسي نافرماني غوره کوونکو باندي ستا درب خبره ریښتي شوه چه هغوی به منونکی نه شي .

( یونس ٣٢-٣٣ )

## وروړ «حکمتیار» د وینا په ترځ کي :

# ډیر ستر فساد هغه دی چی دعمل په وجه یی یو بی وزله اومظلوم ، جهاد اومجاهد ته دبیرا لاس اوچت کړی

## ان شاءالله له لغمان نه به داسلامی ټولنی نمونه جوړوو

## لکه څنګه چی لمونځ نشو پرینودای همداسی دالله (ج) ددین ذواکمنولو په لارکی له جهاد نه هم لاس نشو اخیستلای

اسلامی زعیم باید ولس انتخا ب کړی ، دولس وړباندی باوروی ، له خدای (ج) څخه وویریږی اوپه ملت ترحم ولری ، داسی نه چی په خپل قوم ظلم کوی خود پردیو غلام وی

### دتورخم لاره دټولو افغانانو په مخ خلاصه ده

په جلال آبادکي ددي له امله چي څښتوکسانوله موټرونو څخه ناوړه استفاده کوله موټردروډپاسونو دورکولو کارمعطل کړ . داخبره په جلال آباد کي دپاکستان قونصل شفیع الله خان دشهادت خبریال ته دیوي پوښتنې په ځواب کي وکړه (٤)مخ

### بـي ثبات ساختن اوضاع پاکستان هدف عمده (را) است

اسلام اباد - ٥ حمل :
هدف اصلي (را) یادستگاه استخبارات هندبي ثبات ساختن پاکستان میباشد .
روزنامه جنگ درگزارشي تحت عنوان همین مطلب نوشته است : قتل وغارت ،تخریب کاري وایجاد بي ثباتي اهداف اساسي « را » درکشور هاي همسایه بخصوص پاکستان میباشد .
به اساس نمایش یك فلم مستند درتلویزیون پاکستان که شام جمعه گذشته به نشررسیدتاحال درنتیجه تعصبات لساني وقومي درسیلانکا حدود (٦٠٠٠٠) نفر بقتل رسیده اند . که بدون شك (را) دردامن زدن به این تعصبات درسیلانکانقش عمده دارد ص(٤)

# مرکزی شوریٰ له جهادی تنظیمونو او طالبانو سره دخبرو په ادامه ټینګاروکړ

دشوری موده یو کال اوږده شوه ،تخطیط اوتنظیم به په دی موده کی دانتخاباتو لپاره زمینه برابروی

## دخبرو اترو په نتیجه کی چی هر تړون اوپریکړه کیږی ، باید دهماهنګی شوریٰ په سطحه وی

که څه هم طالبانوپه تیرو نهو میاشتوکی په مذاکراتو کی هیڅ صداقت نه دی ښودلی ، خو دحزب له خوا ورته دتفاهم لار پرانیستی ده

## شوریٰ دحزب امیراواجرائیی ته دسیاسی پریکړو پوره صلاحیت ورکړ

جلال آباد - دحمل پنځمه :
دحزب اسلامي افغانستان مرکزي شورې درابویه اتفاق ټینګاروکړ چي وحزب دي په هیواد کي دسولي دراوستواو اسلامي حکومت دجوړیدو لپاره روانو سیاسي مذاکراتوته ادامه ورکړي اوله جهادي تنظیمونو اوطالبانو سره دي دتفاهم دروازي پرانیستي وساتي».
دشهادت لیږل شوي استازي له جلال آباد نه ریوټ راکړچي دمرکزي شورې غونډه چي دوهمه ورځ شروع شوي وه ، پرون ماښپین په یوه بجه پـاي ته ورسیده .
زموږ استازي دحزب د ویندوي او دارشادوفرهنګ رئیس استاد قریب الرحمن (٤)مخ

## ستر جنرال کشمیرخان له شهادت سره په مرکه کی :

# تراوسه زمونږ نه کوم مجاهد اونه قوماندان کابل ته ننوتی دی

### دمذاکراتو وروستی نتیجی ته انتظار باسو

## سیاسی خبری روانی دی ، خو پوځی تحرکات نه دی شوی

جلال آباد - دحمل ٥ مه :
دحزب اسلامي افغانستان دداراالانشاء رئیس اوپه سرویي کي دحزب عمومي قوماندان ستر جنرال کشمیرخان پرون په

### هیله ده چی مشکلات حل اودهیواد دبحران دآواری په لاری ګامونه پورته شي

جلال آباد کـي دشهادت استازي ته وویل چي « دااوازي دروغ دي چي ګني دحزب افرادواوقوماندانان کابل ته ننوتلي دي، تراوسه نه دحزب کوم مجاهداونه قوماندان کابل ته داخل شوي دي. »
ستر جنرال کشمیرخان زیاته کړه چي « مذاکرات روان دي، نتیجي ته ني امیدواریو، هیله ده چي مشکلات حل شي اودهیواد دبحران داواري په لوري ګامونه پورته شي ستر جنرال کشمیرخان څرګنده کړه چي « سیاسي خبري رواني دي، پوځي تحرکات نه دي شوي، ترڅوچي سیاسي توافق نه وي شوي، پوځي ګام نه پورته کیږي ، پوځي اقدام به ترسیاسي موافقو وروسته کیږي .»

## دلغمان په ولایت کی دبیا رغاونی کارونه په چټکی سره پرمخ روان دی

مهترلام - دوري ٥ مه :
دلغمان په ولایـت کي دبیارغاوني کارونه په چټکي سره پرمخ روان دي .
دلغمان لـه ولایت څخه دشهادت خبریال خبرراکوي چي : دلغمان ولایت په مرکزاوهٔنوموړي ولایت په بیلابیلو سیمو کي دبیا رغاوني کارونه په چټکي سره پرمخ روان اوپه نږدي راتلونکي کي به په دغه ولایت کي دعاموخلکو لپاره دژوندانه په بیلابیلوبرخو کي لازم سهولتونه برابرشي .
خبریال زیاتوي چي : اوس دلغمان دولایت مرکز مهترلام بابا بنارله تیقاتي څخه زیاتي برخي ته بریښناورکړي شوي ده اودرواني میاشتي ترپـاي پوري به دنوموړي ښارټولو سیمو او ناحیو ته دبریښنا مزي وغزیږي اودغه ښاریه په بریښنا روښانه شي .

### امـریکاګرین کارت هاي قبل از سال (١٩٧٩) راغیرقانوني اعلان کرد

واشنګټن - ٥ حمل :
اداره مهاجرت امریکا حدود سه صدهزار قطعه ګرین کارت را که قبل ازسال ١٩٧٩ به اتباع خارجي صادرنموده بود، فاقد اعتبار قانوني اعلان کرد .
طبق ګزارش اعتبار این کارت ها بتاریخ (٢٠) مارچ ١٩٩٦ پایان یافته وازاتباع خارجي دارنده چنین کارت هاتقاضاشده است که کارت هاي شان رامعه (٧٥) دالر جهت ترتیب ګرین کارت هاي جدید به دیپارتمنت مهاجرت ایالات متحده امریکا بفرستند تاپااخذ ګرین کارت هاي جدید از تسهیلات وامتیازاتي که براي دارندګان چنین کارت ها درنظرګرفته شده استفاده نمایند .
طبق همین ګزارش تهیه کارت هاي جدید مدت هشت ماه را دربرخواهد ګرفت . این اقدام حکومت امریکا بخاطر جلوګیري ازساختن کارت هاي جعلي وتقلبي صورت ګرفته ودرتهیه کارت هاي جدید کم به نظر میرسد . اززوش هاي خاصي استفاده شده که امکان هرګونه تقلب کاري را کاهش میدهد .

## وروړ حکمتیار له ډاکترصادق ابونفیسه سره دکتنی په وخت کی :

# دطالبانو سره مو اوږدی خبری وکړی ، خومتاسفانه هغوی په خبرو اومذاکراتوکی صادق نه وو

اوس زمونږ خبری دکابل اداری سره روانی دی ، موږ زیار باسو چی داخبری دهماهنګی عالی شوری په سطحه ترسره شی

# ابونفیسه : ملاربانی دملګرو ملتونو څخه غوښتی دی چی دکابل له اداری سره دتفاهم زمینه برابره کړی

طالبان اوس دپخوانیو شرطونو څخه تیرشوی دی اود استاد ربانی داستعفیٰ غوښتنه هم نه کوی

جلال آباد - دوري ٥ مه :
وروړ حکمتیار دمحمودمستیري له مرستیال سره وکتل .
دحزب اسلامي افغانستان ویندوي اودارشاد او فرهنګ رئیس استاد قریب الرحمن «سعید» په جلال آباد کي دشهادت استول شوي خبریال تـه وویل : پرون مازدیګردحزب اسلامي افغانستان امیر وروړ حکمتیار دننګرهار دلومړي لمبر قول اردوپه کلـوپ کي د افغانستان لپاره دملګرو ملتونو دعمومي تولني دځانګړي استازي محمود مستیري لـه مرستیال ډاکترصادق «ابونفیسه» په مشري له یوه هیئات سره وکـتل . دغه کتنه چي دمازدیګر ترلمانځه وروسته پیل اوتریوه ساعته پوري ني دوام درلود دهیواد په روانو حالاتو اووروستیو تحولاتوپه اړه (٤)مخ

### له مهترلام څخه تر درونټي پوري دسرك دترمیم کارپیل شو

### دغه سرك دحزب اسلامي دامارت اودلغمان دجهادي شورا لخوانه جوړیږي

مهترلام - دوري ٥ مه :
دلغمان ولایت اودرونټي ترمنځ د(٤٠) کیلومتره سرك دبیاجوړلوکار پیل شوي دلغمان ولایت والي استاد عبدالله «واحدي» په دي اړه په جلال آباد کي دشهادت له خبریال سره دیوي ځانګړي مرکي په ترځ کي څرګنده کړه چي ددي سرك په جوړولو اوترمیم (٢٥) میلونه کلداري مصرف راځي چي دامصرف دلغمان دجهادي شورا اودحزب اسلامي دامارت له خوا ورکول کیږي اودسرك دپخولوکار داکلو دساختماني موسسي له خوا پرمخ بیول کیږي .
استاد واحدي وویل: ددي سرك په جوړیدو سره بـه دلغمان ولایت اوسیدونکوته پوره اسانتیاوي برابري شي

## نیروهای هوایی وتوپچی روسیه غرب چیچن رابمباران کردند

ګروژني - ٥حمل :
نیروهاي هوایي وتوپچي روسیه قریه هاي غربي چیچن را هدف پرتاب بمب وګلوله توپ قراردادند که درنتیجه ٤٥ تن ازاهالي بیدفاع قراي مذکور به شهادت رسیدند.
طبق ګـزارش خبرګزاري انترفاکس روسیه همزمان باحملات قواي هوایي وتوپچي روسیه به غرب چیچن نیروهاي نظامي آنکشور درګروژني پایتخت این جمهوري نیز اقدامات شدیدامنیتي را روي دست ګرفتند .
همچنان ګـزارش دیګرحاکیست که مبارزان چیچني یك قطارموترهاي زرهي ص(٤)

## پـولیس مصر (٦٣) تـن ازمبارزان مسلـمان آنـکشور رابازداشت کرد

قاهره - ٥ حمل :
منابع امنیتي مصر ګفته اند که ٦٣ تن ازمبارزان مسلمان رادرایالت المونیا توقیف کرده اند.
طبق ګزارش منابع خبري ایران به نقل ازآژانس خـبرګـزاري فرانسه نیروهاي امنیتي مصر ګفته اند که از این افراد که اعضاي هواداران جماعت اسلامي میباشند تحقیق جریان دارد .

### انتخابات ریاست جمهوري تاتارستان برګزارشد

تاتارستان - ٥ حمل :
انتخابات ریاست جمهوري تاتارستان دوروز قبل آغازیافت .
طبق ګزارش منابع خبري بین المللي مردم تاتارستان جهـت انتخاب مجدد منتیمي میرشاي میقاء بپاي صندوق هاي راي رفتند . شاي میقاء یګانه کاندید پست ریاست جمهـوري درتاتارستان میباشد واولین رئیس جمهورآنکشوریس ازانحلال وفـروپاشي شـوروي سابق میباشد .
براساس ګزارش خبرګزاري روسیه وي ګفته است که اګردوباره به این مقام برګزیده شود پروسه اصلاحات این جمهوري رادنبـال خواهد کرد. جمهوري ص(٤)


### دافغانی حجاجو لپاره مهمه خبرتیا

ټولو هغوافغانانوته چي حج ته تلل غواړي اوتراوسه یې دمصارفو پیسي ندي سپارلي، خبرورکول کیږي چي تر راتلونکي پنجشنبي د(١٣٧٥) هـ ش کال دحمل تر(٩) چي د١٩٩٦ م کال دمارچ له (٢٨) مي نیټي سره برابره ده حتماً به پیښورکي دهماهنګي عالي شوري په دفترکي دحج کمیسیون ته مراجعه وکړي . اوهغوکسانوچي ترمنځ یې ددغه سفردمصارفو پیسي سپارلي د نوموړي کمیسیون دهدایت سره سم دي مربوطه مرجع ته مراجعه وکړي .
آدرس : دسپین جومات تم ځاي - سوت کانال روډ - دټاون شانه دنهر په غاړه دسیدجمال الدین افغان پوهنتون ته څیرمه دهماهنګي دعالي شوري دفتر - فون :(٨٤٠٥١٣)

### آګاهي مهم براى عازمين حج بيت الله

به اطلاع آن عده افغان ها که قصد سفرحج رادارند ولي پول مصارف آن را نه پرداخته اند، رسانیده مي شود که تاروز پنجشنبه آینده مورخ (٩) حمل ١٣٧٥ هـ ش مطابق (٢٨) مارچ ١٩٩٦ میلادي حتماً به کمیسیون حج شوراي عالي هماهنګي مراجعه کنند . افرادیکه قبلاً پول مصارف این سفر راپرداخته اند طبق هدایت کمیسیون یادشدهٔ به مرجع مربوط مراجعه کنند .
آدرس : ایستګاه سپین جومات - سوت کانال رود - عقب تاون - لب نهر - نزدیك پوهنتون سیدجمال الدین افغان - دفتر شوراي عالي هماهنګي .
نمبر تیلفون : ( ٨٤٠٥١٣ )

### بیت الله شریف ته دتلونکو افغانی حجاجو لپاره

### زیری

دافغان بیاودانولو اولوژیستیکی خدماتو مؤسسی اراده کړی چی بیت الله شریف ته دتلونکو افغانی حجاجو خدمت وکړی . نو هر هغه افغان که په هیواد کی دننه دی او کـه دهجرت په دیارکی کـولای شی له هغو ټولو آسانتیاوو څخه په استفادی سره په مناسبه بیه بیت الله شریف ته تشریف یوسی ،چی ددی مؤسسی له خوا برابری شوی دی . اوهیله کووچي د ځنډیدو نه د مخنیوی په خاطر
دحمل میاشتی تر (١٤) پوری دثبت نام لپاره مراجعه وکړی
دیادولو وړبولو چی دسعودی عربستان ویزه په مجانی توګه اجراکیږی . بناً تاسی ته واړه دړکول کیږی چی دا مؤسسه به ستاسی ټول اسناد طی مراحل اودسفر چاری په سمه توګه تنظیم کړی . کولای شی د زیاتو معلوماتو لپاره په لاندینی پته ددفتر اداري ته مراجعه وکړی
پته : پیښور - یونیورسټی روډ - تهوان سټاپ - مراد پلازا لومړی منزل د (ARLO)دفتر
Tel:(843096)

# شهادت

ارګان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان
موسس: انجنیرحکمتیار
ناشر: ریاست ارشادوفرهنگ
سرمحرر: محمد نذیر «بشارت»
تحت نظر هیئت تحریر
تیلیفون: ۲۵٦۳۷۸۹
آدرس پستی: ۱۰۳٦ یونیورستی تاون - پشاور


چرابايد حوصله ايران سربرود ؟!

## محبت وخوشبینی مردم افغانستان درقبال انقلاب اسلامي ايران ومردم ايران مسئله بسيارقيمتي وبزرگي است كه كارگذاران ايراني بايد متوجه آن باشند

احمد وحسني ، مسئول اموريناهندگان افغان دروزارت داخله ايران روز شنبه ۳ حمل درتهران ياد آوري نموده كه باآغازسال نومدت كارت هاي مؤقت مهاجرين افغان مقيم ايران به پايان ميرسد. وي گفته است كه هرهفته (۲۵۰۰) پناهنده افغان به كشورشان برگردانيده ميشوند وقراراست كه تاپايان سال جاري هجري بيش از(۲۵۰) هزار پناهنده افغان كه اكثراً اهالي صفحات شمال افغانستان ميباشند، ازراه تركمنستان به افغانستان انتقال داده شوند.

البته تصميم مربوط به انتقال مهاجرين افغان ازايران تقريباً ازدوسال به اينسو تاقبل از سقوط هرات وروبكارشدن اداره طالبان درآنولايت جاري بود.

پس ازيك وقفه چندماهه، اينك حكومت جمهوري اسلامي ايران باردیگر وبلكه گرمترازگذشته، حرف عودت مهاجرين را مدنظرقرارداده است. خبرواپس نمودن مهاجرين ازطريق تركمنستان كه به گفته منابع ايراني،روي برنامه آن ،موافقه سه جانبه ايران، افغانستان وتركمنستان صورت گرفته، درحالي منتشر نموده كه وضعيت كشوربه اثردوام جنگ وكشيدگي داخلي، نه تنهااينكه بهبود نيافت بلكه امكان پذيرش چنين برنامه اي را درحال حاضر نظربيك سال دو سال قبل مشكلترساخته است. به همين لحاظ، همزمان بااعلام خبر، تمام جناحهاي مطرح در افغانستان بابرگشت اجباري مهاجرين افغان ازايران ردعمل مخالف نشان داده اند.

انجنيرحكمتيار اميرحزب اسلامي دريك مصاحبه اختصاصي باراديوپيام آزادي ضمن طرح مسايل ديگراز تصميم اخيرايران براي بازگشت مهاجرين ياد آوري مينمايد بايد ازجمهوري اسلامي ايران بپرسيم كه تفصيلات اين موضوع ازچه قرار است، چراسيرتركمنستان راانتخاب كردند، زيرا درشرايطي كه شوراي هماهنگي درجريان قرارداده نشده بعيد به نظر ميرسدكه اين برنامه صورت عملي بخود بگيرد.

وزارت خارجه اداره كابل كه ظاهراً با برگشت مهاجرين موافقه نموده ضمن تبصره اي بابرنامه و اخراج اجباري ، مهاجرين ومقيد ساختن آن درمدت يكسال نيز مخالفت نموده است.

ازطرف جنبش ملي وحزب وحدت نيز ازتصميم مربوط واپس نمودن مهاجرين افغانستان انتقاد شده وتقاضا گرديده تااين موضوع تاعادي شدن اوضاع واستقرار يك حكومت مورد قبول معطل قرارداده شود.

همينطوره معصوم افغاني ، سخنگوومسئول دفتركويته طالبان دريك تماس كه باروزنامه شهادت داشته ردعمل تندتري بااين موضوع نشان داده و عودت مهاجرين را درشرايط كنوني و يك عمل غيرمنصفانه ، قرارداده است. معصوم افغاني نيزگفته كه تصميم برگشت مهاجرين ازايران تازمان اعاده صلح معطل قرارداده شود. قابل يادآوريست كه طالبان باتصميم ايران درمورد عودت دادن مهاجرين افغان درحالي مخالفت مي كنند كه يك هيئت ايراني تحت رياست آقاي «تبري» يكي ازمسئولين بلندپايه وزارت خارجه ايران، مصروف ديدار بامسئولين طالبان درقندهارمي باشد.

چنانكه اميرحزب اسلامي افغانستان اشاره نموده اند موضوع قابل توجه، وانگيزه دروني واصلي كه حكومت ايران را واداشته تادرشرايط كنوني برنامه عودت اجباري مهاجرين را روي دست بگيرد، مجهول ميباشد.

چرابايدكشور برادرايران كه ازوضعيت افغانستان باتمام كوائف اطلاع دارد يك جانبه چنين تصميمي را اعلان ميكند. اگربگوييم كه يك كشور مصالح كشوري و داخلي خودرا اولويت ميدهد وشايد دوام اقامت موقت مهاجرين اين مصالح راديگربه خطر جدي مواجه ساخته است اين هم كه دليل موجهي نيست. زيرا ايران كه درشرايط ناگواراقتصادي جنگ باعراق ودرآواني كه هنوزهيچ كمك وهزينه موسسات بين المللي رابه ارتباط مهاجرين وپناهندگان دريافت نميكرد وهمچنان درزمان تهديد شوروي سابق، مهاجرين افغان را درخاك خود قبول كرد، حالا كه اميد حل قضيه افغانستان ورسيدن بيك فضاي پرامن پيش ازهروقت ديگر نزديك شده چرابايد صبروتحمل راازدست بدهد.

اينكه تصميم مربوط به عودت دادن اجباري مهاجرين افغان از ايران درشرايط حاضرروي چه انگيزه هاي اتخاذ شده وآيا اين تصميم بيشتر بخاطر ملاحظات اينكه جمهوري اسلامي ايران درداخل آنكشور دارد يادرافغانستان، مسايلي است قابل بحث. ولي اگر اززاويه برادري ودوستي بررسي شود ونتايج اين تصميم را ازجهات مختلف ودرارتباط وانعكاس با مسائل داخلي كشورمشاهده شود، زيانباربودن نتايج اين فيصله را بمراتب سنگينتر ازمنافعي ميدانيم كه درين راستا ممكن است مطمح نظرقرارگرفته باشد.

صرف نظر اينكه برنامه مذكور درشرايط كنوني افغانستان قابل تطبيق است باخير واقعيت اين است كه پخش في نفسه يك چنين خبر، حلقه هائي را خرسندميكند وآنهارابه انجام توطيه وتحريكات بيشتري تشويق ميكند كه بمقصد ومرام مختل ساختن روابط مردم افغانستان وايران، منتظر فرصت نشسته اند.

درهرحال، محبت وخوشبيني مردم افغانستان درقبال انقلاب اسلامي ايران ومردم ايران مسأله بسيار قيمتي وبزرگي است كه كارگذاران ودولتمردان ايراني بايد درسرخط هرتصميم شان به ارتباط افغانستان اهميت آنرا زيرغورداشته باشند. بايد ازهرگونه اقدام وحركتي كه به اين علايق صدمه ميرساند وبه دشمنان اسلام وبه دشمنان ايران وافغان زمينه ميدهد، جلوگيري وسدباب نمائيم.

وضع كنوني كشورمستلزم آن است تاجمهوري اسلامي ايران درجريان استقرار وتثبيت اوضاع افغانستان كمك وهمكاري بيدريغ نمايد وعودت اجباري مهاجرين كه في الحال مناسب حال افغانستان نيست ان شاء الله به آينده نزديك ونه چندان دور موكول نمايد.

# ډیرسترفاسد هغه دی چی دعمل په وجه یی یوبی وزله اومظلوم، جهاد اومجاهد ته دښیرا لاس اوچت کړی

مهترلام:
دتيري جمعي په ورځ دحزب اسلامي افغانستان اميرورور حکمتيار په لغمان کي دجمعي ترلمانځه دمخه يوه مفصله وينا وکړه. په پيل کي وررور «حکمتيار» قرآن العظيم الشان ځو آيتونه تلاوت او وروسته يې دهغوترجمه او اوږد تفسير وکړ. دحزب امير ترترجمي اوتفسير

> ستادجهاد معني داده چي ته دمظلوم دملګرتيا لپاره رااوچت شوي ئي، ته دخداي (ج) ددين ملګري ئي اوالله پاک داسي مجاهدته کوم لقب انتخاب کړي، انصارالله، يعني دخداي (ج) مل خداي (ج) دچاملګرتيانه ضرورت نه لري خومجاهد لپاره ئي دانصارالله لقب انتخاب کړي هغه چي دالله (ج) مرسته کوي، دالله (ج) مل شوي الله پاک دومره لوي نوم درته انتخاب کړي چي دامجاهدپورته کيږي ددي په ځاي چي دمظلوم مرسته وکړي په هغه باندي ظلم کوي خپله ظالم شي، دظالم ملګرتيا کوي، ظالم ته پناه ورکوي، دظالم حمايت کوي، ظالم په مظلومانومسلط کوي، خپله ظالم دي داډيره لويه جفاده داډيرستر ظلم دي «ولاتفسدوافي الارض بعد اصلاحها» په ځمکه کي دهغه داصلاح نه وروسته فساد مه کوي.
> لوي ظلم دادي چي ځوک په خپلوکړو وړو مجاهد او جهاد بدنام کړي.

وروسته وويل:
ورونوا
بايد انسان په خپل نيک عمل غاره نشي خوف اوويره به ورسره وي ځکه دادنيک عمل توفيق هم خداي (ج) درکړي، تاجهاد کړي دجهاد همت خداي (ج) درکړي، متاوينې تلي شوي، دا جرئت اواحساس خداي (ج) درکړي تاخپل ځوي دخداي (ج) په لاره کي قربان کړي دا همت خداي (ج) درکړي، صبرخداي (ج) درکړي جرئت خداي (ج) درکړي ايمان خداي (ج) درکړ، داتوفيق الله (ج) درکړ، ستالاس قطع شوي، پښه دي قطع شوي لمونځ کوي، روژه نيسي، کښه نه وي ډيروخلکوهمدغسي په دنيا کي هم خپل جهادونه، قرباني اوشهادتونه پښه يوه ناچيزشي خرڅ کړي، ډيرو خپل داهرڅه په ناچلونوټونو خرڅ کړي دي.

ځومره موولېدل چي په ناچلونوټونو ئي خپل ايمان جهاد اوهجرت خرڅ کړ، تاڅه نيک کار کړي وي، قرباني دي ورکړي، شهيد شوي ئي، زخمي شوي ئي، کوردي وران شوي، هجرت دي کړي، دجهاد ستونزي اوکړاوونه دي ګاللي، په کوردي پهاري زغملي ته هم راضي ئي، تېر ماشومان اوښځه دي هم راضي دي، دادالله پاک رحم دي چي ستاپه سينه کي ئي سکون او ډاډ اچولي، ځومره ستونزي اوکړاوونه دي ګاللي نن ددي ارمان کوي کاش همغه شپي اوورځي واي چي خلک ئي تصورنشي کولي، په سرباندي به دي بمونه اوريدل، توپونو او ټانکونو سره دي مقابله وه، خواته به دي يوورورشهيدو بل به زخمي و، خوته ئي اوس هم ارمان کوي چي کاش همغه شپي او ورځي دي داسکون، ډاډ اواطمينان او دزړه سرور او خوشحالي خداي (ج) تاته درکړي، الله پاک تا ته داتوفيق درکړي، خداي (ج) غوښتل په افغان قوم کي داسي شازلمان اوبه خداي (ج) مين مجاهدين را ولاړشي چي دتاريخ مسيرېدل کړي، ددنيا يولوي وحشي قوت ختم کړي، دجهادفريضه احياشي دهجرت فريضه راژوندي شي، اسلامي امت يوځل بيا راپيدار شي تاخوداغوښتل، تاته ئي دا توفيق درکړ، ته به الله (ج) ته له خوف اوطمعي سره لاس اوچتوي اودهغه عبادت به کوي.

دحضرت عمر (رض) په باب راځي چي هغه ويل: دزه چي خپل عمل ته وګورم نودا ويره راسره وي چي که له دي ټولي دنيانه يوکس، دوزخ ته تلونوشايد هغه زه وم.

هغه خپل تصورکوي، خوچي خپل ايمان او خداي (ج) رحمت ته ګورم اميد اوطمع چي خداي (ج) ته لرم هغي ته ګورم بيانوفکرکوم چي که له دي ټولي دنيانه يوکس جنت ته تلونوشايد هغه زه وم» دمسلمان حالت بايد دغسي وي خوف اوطمع وي. «ادعواربکم تضرعاً وادعوه خوفاً وطمعاً» هغه خوف اوطمعي سره ... «ان رحمت الله قريب من المحسنين» يقيناً چي دخداي (ج) پېرزوينه او رحمت نيږدي دي خو نيکو کارانوته، دنيکو کارانودعاګاني به خداي (ج) زرقبلوي اوالله پاک به خپل رحمت دهغوي په حال شامل کړي، ددعالپاره يوه ضروري خبره همداده چي له فساد نه به ډه کوي اونيک عمل به کوي مخصوصاً چي يوځل په ځمکه کي صلاح اواصلاح راغلي وي، هلته به ډېراحتياط کوي چي ستادفساد په نتيجه کي بيرته دادځمکي امن وامان ختم نشي او صدمه ورته ونه رسيږي.

پس له اصلاح نه فساد کول ډېر لوي جرم دي. فساد پس له اصلاح نه داسي وګڼه لکه چي الله پاک په تاباندي پېرزوينه وکړه، اودتاريخ يوستر کارترسره شو، تاته الله پاک لوي عزت درکړ لويه فتح اولوي بري داسي چي دنيا دهغه تصورنشواي کولي روس ته ماتي ورکولو چاګمان نشواي کولاي داشرف اوعزت خداي (ج) ستاپه برخه کړ اسلامي نړي په خوب ويده مظلومه او محکومه وه، کفارو او ددين دښمنانوورباندي حکومت کولو، په هرځاي کي مسلمان مظلوم ؤ، ظالم اومفسد حکومتونه په هغوي باندي حکومت کولوټوله اسلامي نړي دکافرانو مستعمره وه، په سياسي، اقتصادي، اجتماعي اوعسکري لحاظ محاصره وه اوکافرانو ورباند حکومت کولو دکافرانو غلامان په مونږ باندي پادشاهان اوحاکمان وو، دغه اسلامي امت ستادجهاد په نتيجه کي راويښ شوي په کشميرکي هم تاوليدل چي خلکوجهادشروع کړ، ويل ئي چي که افغان مجاهدين روس ته ماتي ورکولاي شي موږ ولي هندته ماتي نشو ورکولاي، په فلسطين کي هم جهادشروع شو، بوسنيا، تاجکستان او آذربايجان کي هم جهاد شروع شو، ددنيا په ګوټ ګوټ کي اسلامي امت داسلام طرف ته دراګرځيدلو حرکت پيل کړ، داروحيه وورسره پيداشوه چي دوي به ازادوي، اسلامي حکومت به لري، داسلام په لاره کي به جهاد کوي دشهادت اوهجرت لاريه غوره کوي، الله پاک تاته دومره لوي عزت درکړ، ددنيا قيادت اورهبري ئي درته وسپارله، ددنيا په ګوټ ګوټ کي ستاپه نامه باندي خلکوفخر کاوه، داسلامي امت سرلوړۍ، شمله يې اوچته وه. پـه هرڅانځه کي به ددنيا په ګوټ، ګوټ کي ستالپاره دعاکيدله، داسي جومات ډېرکم پيداکيده چي خلک دي لمونځ کوي اوودي نه واي چي خدايه افغان مجاهدين کامياب کړي داخوږه خبره نه ده.

زه چي يوځل کعبي ته داخل شوي وم، خدا پاک داشرف اوافتخاررا په برخه کړ ځوځله نور هم خويوځل چي کعبي ته داخل شوي يم ځنګ ته مي يوځوک ؤ نه مي پيژانده خداي (ج) خبرچي ددنيا دکوم ځاي ؤ، دکوم ملک ؤ او هغه په سجده پروت ؤ ياوروکړي چي هغه دافغان مجاهدينولپاره دعاکوله. ويل مي چي خدايه! دي سړي ځان هيرکړي، خپل ملک ئي هيرکړي، ستاپه کعبي کي په سجده پروت دي او د افغـان مجاهدينو لپاره دعاکوي.

داوړه خبره نه ده چي تاته يوځوک په حرم کي، حرم پريږده چي دخداي (ج) دکوريه منبع کي په سجده پروت دي اوتاته دعاکوي، دغسي ددنيا په ګوټ ګوټ کي تاته دعاکيدله الله پاک دومره

> زه چي يوځل کعبي ته داخل شوي وم، خداپاک داشرف اوافتخاررا په برخه کړ ځوځله نور هم خويوځل چي کعبي ته داخل شوي يم ځنګ ته مي يوځوک ؤ نه مي پيژانده خداي (ج) خبرچي ددنيا دکوم ځاي ؤ، دکوم ملک ؤ او هغه په سجده پروت ؤ ياوروکړي چي هغه دافغان مجاهدينولپاره دعاکوله.

عزت درکړ دخلکوپه زړونوکي ئي درته مينه اومحبت راپيداکړ په خپل عبادت کي ئي تاته دعاکوله، په سجده کي ئي تاته دعاکوله، تاته الله پاک دومره عزت درکړ، دومره ستره اولويه تاريخي فتح ئي درپه برخه کړه چي روس ډړي ډړي شو، کمونيزم ختم شو، کمونيزم په ټوله دنيا دحکومت کولو خوب ليده داثي باورؤ چي داپيري دکمونيزم پيري ده کمونيزم به په ټوله دنياسلط کيږي، دادهغوي باورؤ خوهغه کمونيزم دتاريخ کندي ته وسپارلې شو اوهغه کمونيزم نورختم شو، ټغرئي ورټول شو، يولوي فرعون، يوه لويه امپراطوري ستاسي په لاس ختمه شوه، دادالله پاک لويه پېرزوينه اولوي رحمت ؤ دافغان قوم په نسبت اوس چي ځوک ددغه لوي رحمت او پېرزويني نه بعد داسي څه وکړي چي مجاهد بدنام شي اوخلک مجاهدته ښيراکوي داډېرلوي ظلم دي، ډېر سترفساد دي، لوي ظالم همدغه دي چي هغه دغسي څه وکړي چي بوبي وزله اومظلوم لاس اوچت کړي چي خدايه! ددغومجاهدينو خوکووران کړي ځوک جهاد اومجاهدينوته ښيراکوي، ځوک چي مظلوم څوروي ددي په ځاي چي دمظلوم مرسته وکړي، دمظلوم ملګرتيا وکړي،

ستادجهاد معني داده چي ته دمظلوم دملګرتيا لپاره رااوچت شوي ئي، ته دخداي (ج) ددين ملګري ئي اوالله پاک داسي مجاهدته کوم لقب انتخاب کړي، انصارالله يعني دخداي (ج) مل خداي (ج) دچاملګرتيانه ضرورت نه لري خومجاهد لپاره ئي د انصارالله لقب انتخاب کړي هغه چي دالله (ج) مرسته کوي، دالله (ج) مل شوي الله پاک دومره لوي نوم درته انتخاب کړي چي دامجاهدپورته کيږي ددي په ځاي چي دمظلوم مرسته وکړي په هغه باندي ظلم کوي خپله ظالم شي، دظالم ملګرتيا کوي، ظالم ته پناه ورکوي، دظالم حمايت کوي، ظالم په مظلومانومسلط کوي، خپله ظالم دي داډيره لويه جفاده داډيرستر ظلم دي «ولاتفسدوافي الارض بعد اصلاحها» په ځمکه کي دهغه داصلاح نه وروسته فساد مه کوي.

لوي ظلم دادي چي ځوک په خپلوکړو وړو مجاهد او جهاد بدنام کړي.

ورونوا مونږاوتاسوداالله (ج) لپاره دجهاد په لاره کي ملاوتړله مقصدمودا ؤ چي خداي (ج) زمونږملک آزاد کړي، روسان زمونږ دملک نه ووځي، دکمونيستانو تسلط ختم شي، اسلامي حکومت قائم شي، اسلامي حکومت يعني هغه چي دخداي (ج) دين بـه قائم وي قرآن به حکومت کوي، شريعت به زمونږ شخړي اومنازعات حل اوفصل کوي، زمونږ دژوند ټول مسائل به شريعت ته راجع کيږي، شريعت چي کـومه فيصله کوله هغه به آخري فيصله وي دخداي (ج) ددين کلمه به لوړه وي ټول به هغه ته منقاد اوتسليم يو، حق به غالب ئي عدالت به تأمين وي، امنيت به تأمين وي، دخلکوسر، مال، عزت اوآبرويه خوندي وي يويه په بل دزورظلم زياتي کولو جرئت نشي کولي، مونږ اوتاسو دهمدي لـپاره ملاتړلي جهاد مودهمدي لپاره کړي، الله پاک لطف وکړ روسان ووتل.

مونږ اوتاسو دهمدي لپاره داجهاد پيل کـړ روسـان ووتل ملک مـو آزاد شو کمونستانو حکومت ختم شوه خوهغه يولوي او ستر آرمان لاپاته دي، هغه لاتـه دي ترسره شوي، اسلامي حکومت قائم نه دي، دا چي قدرت دي دافغانستان په ګوټ ګوټ کي، مرکز اوپايتخت کي هم په ولاياتواووليسواليو اوپه کلي کي هم دمصالح کسانو په لاس کي وي، نظام دي وي، عدالت دي تأمين شي، امنيت دي وي دخلکوسر، مال، عزت اوآبرودي دهرنوع تيري اوتعرض نه خوندي اومصئون وي او ټولي شخړي دي دشريعت مطابق حل اوفصل شي هرجنجال، هره کشاله، هره منازعه هره شخړه چي په هره سطح کي راپيداکيږي که په داخل دکورکي ده دښځي اودميړه ترمينځ، دپلار اودزوي ترمينځ، دورور او دوروترمينځ، ديوه همسايه اوديل ترمينځ دکلي دوال اودملک ترمينځ ددهقان، بزګراوزميندار ترمينځه دحاکم اودمحکوم ترمينځه، په دوکان اوبازارکي، په خريداوفروش کي، په هره مسئله چي کومه شخړه راپيدا کيږي جنجال

> اسلامي حکومت يعني هغه چي دخداي (ج) دين به قائم وي قرآن به حکومت کوي، شريعت به زمونږ شخړي اومنازعات حل اوفصل کوي، زمونږ دژوند ټول مسائل به شريعت ته راجع کيږي، شريعت چي کومه فيصله کوله هغه به آخري فيصله وي دخداي (ج) ددين کلمه به لوړه وي ټول به هغه ته منقاد اوتسليم يو، حق به غالب ئي عدالت به تأمين وي، امنيت به تأمين وي، دخلکوسر، مال، عزت اوآبرويه خوندي وي يويه په بل دزورظلم زياتي کولو جرئت نشي کولي، مونږ اوتاسو دهمدي لپاره ملاتړلي جهاد مودهمدي لپاره کړي، الله پاک لطف وکړ روسان ووتل.

اومنازعه وي ددي فيصله به ځوک کوي؟ دابه دخداي (ج) دين تـه راجع کوي اودهغه فيصلي تـه به ټول منقاد پاست. زمونږ اوستاسو دجهاد اصلي اوبنيادي مقصد همداؤ، دامقصدنه دي ترسره شوي، ددي لپاره به ملاتړو، لوي جهاد همدغه دي، دجهاد اصلي مقصد همدادي، ځوک چي فکرکوي جهادپوازي دروسانو په خلاف ؤ اواوس جهاد ختم دي دوکه شوي اشتباه کوي، هغه دين نه دي پيژندلي، هغه دجهاد په مقصد نه پوهيږي، دجهاد مقصدپوازي روسان شړل نه ؤ، پيغمبر عليه السلام فرمائي چي جهاد ترقيامته پورې دي که پادشاه ظالم و که عادل ؤ بيا هم جهاد دي، هغه مقصد مولانه دي ترلاسه کړي.

ورونو ! مونږ ددي لوي اواساسي هدف دتحقق لپاره ملاتړلي وه، لـوي عبادت همدادي لمونځ، روژه، زکات، حج لکه څنګه چي دالفرض دي همدارازاوترددي نه زيات لوي فرض دادي چي دخداي (ج) ددين دقائمولو لپاره به جهاد کوي.

لمونځ، روژه، زکات اوحج تادهغه لوي مقصد لپاره تياروي. دادتربيت او دروزنـي لـپاره ده، ستا دژوند اوستا دپيدايښت اصلي مقصد دخداي (ج) عبادت اوبندګي ده يعني چي دخداي (ج) دين حاکم وي او ته دهغه مرئي اوبنده وي هغه ته منقاد او تسليم وي، اصلي مقصد دادي.

ددي مقصد دتحقق لپاره به ملاتړي، له لغمان نه به يولونه اسلامي ټولنه جوړوو زه هم لغمان ته دهمدي مقصد

> اوس چي ځوک ددغه لوي رحمت او پېرزويني نه بعد داسي څه وکړي چي مجاهد بدنام شي اوخلک مجاهدته ښيراکوي داډېرلوي ظلم دي، ډېر سترفساد دي، لوي ظالم همدغه دي چي هغه دغسي څه وکړي چي بوبي وزله اومظلوم لاس اوچت کړي چي خدايه! ددغومجاهدينو خوکووران کړي

اوآرمان لپاره راغلي يم.

دلغمان ورونوله ماسره تعهد کړي چي له لغمان نه به يولونه اسلامي ټولنه جوړوو چي دلته واقعي امن وي، واقعي اسلامي نظام وي، اسلامي عدالت وي، دلته ځوک بوله بل تـه وښه ونيږي، يويه بل زورزياتي ونشي کړاي، دغسي امن چي په سړک باندي تلو راتلو کي ځوک ونه

دريم مخ

# لوبی او سیاست

میوند

نژدي يوه مياشت دپاکستان پرفضا دکرکټ وريځي ګوريدلي وي او لاتراوسه هم دوريځودغه اوښان هماغسي چودي - ددغه هيواد تلويزيون خوله يوي مخي خپله غبږ دکرکټ لپاره داسي پرانيستي وه چي سړي فکرکاوه کرکټ دپاکستان دسياسي ژوند او بقا يوداسي پټ راز دي چي دتلويزيون سکرين يې له مخ نه دپردي پورته کولو تنابونه راکاږي له تلويزيون پرته، راديو اخبارونه اومجلي ټول داسي ګڼل کيدل لکه داهرڅه چي کرکټ ته وقف شوي وي.

دادپاکستانيانويه اصطلاح يوډير ستر مهم ؤ چي تراوسه بل هيڅ مهم ته دومره کمپاين اواهميت نـه ؤ شوي. دلته يو دشجرکاري مهم وي چي په عنعنوي توګه په تلويزيون کي ديوځو پيغامونو اويه اخبارونوکي لـه تصويرو او يوه نيم لوي عنوان سره پيل اوپاي ته ورسيږي.

دهلته صفايي مهم هـم همداسي پيل اوتير شي. ددهشت ګـردي، رشوت او ګرانفروشي دمختنوي اوداسي نورمهمونه هـم راشي او ولاړشي، خو د کرکټ مهم دپاکستان اداري تـه بلکي فرد فرد پـه حرکت راوستلي ؤ، شرطونه تړل شوي ؤ، نذرونه منل شوي اوځينوخو له هندوستان سره دکرکټ ماته اوبري دجګړي له ماتي اوبري ځڼه انهول ګاڼه.

وايي چي جرمني داسي هيواد دي چي هلته پرکرکټ پـه قانوني توګه بنديز لګيدلي دي. دغـه بنديزدجرمن دکتاتور «هتلر» لګولي دي، داداسي بنديزدي چي دهتلر لـه ماتي، دجرمني له ټوټه کيدو اوبيرته يوځاي کيدو سره هم چا ليري نشوکړاي.

کرکټ زمونږيه هيواد کي هم څه سابقه نلرله خـو اوس داسي ښکاري لکه چي کرکټ هم زمونږکلتورتـه لاره پيدا کړي وي.

دمرحوم جنرال ضياء الحق پـه وخت کي ده کرکټ ډيپلوماسي « اصطلاح هم راووتله اوکرکټ له ورزش اوسپورتي لوبي نه دسياست سټيج ته ورسيد.

دمرحوم جنرال ضياءپه وخت کي چي يوخواته پر افغانستان روسي يرغونو تيري کړي و، اوپاکستان يې تـر مستقيم تخريبي ګواښ لاندي ؤ هندوستان هم

پاکستان تـه ديي بي سي دګوهرخبره ګوت ځنلونه تيزه کړي وه، په همدغسي شرايطو کـي چي دهندوستان نيت له هروخت نه ډېرخراب اوخطرناک معلوميده جنرال ضياء الحق ډيلي تـه دکرکټ دليدولپاره سفروکړ.

دجنرال ضياء دغه سفردراجيوګاندي له مخ نه دحملي هغه ټولي پلمي ليري کړي چي دجګړي نغاره يې ډنګوله. ځکه خودغه سفردکرکټ ډيپلوماسي نوم غوره کړ. کـه څه هم هغه وخت دجنرال ضياء

## حال دويلو لايق نه دی

پدغـه سفر ډېر انتقادونه وشول خوهغه دکرکټ ډيپلوماسي کاميابه ګڼله ځکه چي دهندوستان دحملي مخه يې پري نيولي وه.

دااوس چي پاکستان دهندوستان په وړاندي دکرکټ لويه بايلوده نويوځل بيا دغه بايلات له سياست سره وتړل شو. او هغه داچي دکرکټ پخواني کپتان عمران خان چي له حکومت سره ښکريه ښکردي دخپل انهيوال وسيم اکرم له لاري دلوبي دشکست پرتوطئه تورن کړي شو.

په هر صـورت دکرکټ دغه بايلات دپاکستانيانو اعصاب دومره ورخراب کړي ؤ چي ځينو تلويزيونونه په ټانچو او کلاشنکوفونو وويشتل. اويوه ځوان يکي داسي زړه وغورځاوه چي له واده نه هم منکرشو اوبل له اوږدي بيهوشي سره مخامخ شو. يوه ډله نوروځوانانو دوسيم اکرم پرکوربريدوکړ، هنداري يې ورماتي کړي اودهغه تصويريې وسوځاوه.

* خودسريلانکاله خوادهندوستان ماتول دپاکستانيانو زړونه تکه کړل هغه ځوان هم واده ته راضي شو اوبيهوښه ځوان هم په خودګي شو.

خوپه هندوستان کي دغـه شکست له پاکستان نه زيات دهندوستانيانو داعصابو مزي وترنګول. هغوي دلوبي ستديوم ته اورواچاوه. سريلانکايه سفارت يې لاسي بونه وغورځول. دسريلانکا لوبغاري يې شه ووهل لدي پرته دکرکټ دغه شکست هغوي دداخلي اوخپل منځي جګړو په پوله هـم ودرول پـه بنګلور کي هندوانو پرمسلمانانو اوسکانو حملي وکړي چي پدغو حملوکي زيانه مرګ ژوبله رامنځ ته شوه.

لدي معلوميږي چي دکرکټ دبايلات سوځت له جواري نه هم بد دي، کيد شي داهم جواري وګڼل شي ځکه چي شرط هم په جواري کي شميرل کيږي اودکرکټ په دغه لويه ډيروشرطونه تړل شوي ؤ.

په پاکستان کي کله کله نوري مسابقي هـم کيږي، دامسابقي کله په هـيواد کـي دننه وي اوکله له باندنيو هيوادوسره، لکه مقابله، حسن قرائت، مقابله نعت خواني، مقابله تقرير اوداسي نورخو هغه مقابلي داوږتيري شي چي نه تلويزيون ورته په غه کمپاين ځان ستړي کوي اونه هم اخبارونه راديو اومجلي اونه يې هم پـه ګڼته اوبايلات دچاإحساسات راپاريږي، ځکـه خوپه ډيرافسوس سړي ويلي شي چي. مسلمانان په ربتيا هم ډيرډيو دفرهنګي او ثقافتي يرغـل او استعمار په وړاندي ژوبن وهلي شوي اوخپل معنويت اوځلايي بايللي ده.

خودهندوستان دکرکټ ټيم پوپخواني کپتان بياوايي: د خداي لپاره لوبي له سياست سره مـه ګډوي لوبي، لوبي دي اوسياست سياست. دا ښه خبره ده ځکه که لوبي له سياست سـره ګډي شي نو وسياسي لوبي، تري جوړيږي اودسياسي لوبو انجام ډېرخطرناک وي.

هرناوک چي دقضاله شسته خيږي
زمانه درحمان زړه ورته اماج کا

# بی ککرو لاسونه - بی لاسونو ککری

**مغموم**

دطالبانو کرامو د«سولې توغندیو» بیاکابل پــه ویرگډکړ. بیاني دمظلومو کابلیانو فریادونه عرش تــه جگ کړل، بیاني هغه څه وکړل چي نورني ورياندي متهمول ، بياني پـه هغه څه لاس پوري کړ چي دلـه منځه وړلو پـه نامه يې غوغاجوړه کړي وه .

دنړیوالوخبري سرچینو په قول په کابل ښارکي بوځل بیادمرگونوغوبل جوړدي ورمه شپه بي بي سي رادیو هم په همدي رابطه یوخبردرلودچي دکابل رادیوله قوله ئي دطالبانو دراکټونوله امله دکابلیانو دمرگ ژوبلي کيسي کولي . بي بي سي رادیو داتلس تنومړو اوپه همدي شمير دټپيانوريپوټ ورکـړ چـي ېرازي په يوځوراکټونو دمرگ ښکارشول خو ددي ریوټ په اړه دوياند لهجه، الفاظ اوجملي هغـسي نه ؤ لکه څوورځي وړاندي چي په بيت المقدس کي ديوه بم دچاودني په اړه دمړو اوټپيانوپه هکله ؤ . که څه هم کابل اوبيت المقدس دواړه دمستقلو هيوادونو مرکزونه دي. خـو په يوه مرکز کي خپل

خلك او سـي همدا ښاريې دپلرونو او نيکونوکوراو ښارؤ او پـه بل کي بيا ديرغلگرو غاصبانوراج دي په کابل کي ددي ښارداوسيدونکو غوښي او هډوکي دراکټونو له باروتواوپارچو سره والوتل اوپه بيت المقدس کي دغاصبويهودو .

اوسره له دي چي کابليان مظلوم ژوند لري اومظلومان دي، خوپه بيت المقدس کي يهود ديوه قابض او غاصب پوځ په څير دعربو په اوږوسپاره دي چي کـه مري دخپلوجرمونواوستمونو په بدل او کسات کي به مري .

خود بي بي سي راديو دوياند لهجه بيا دکابل په مړو او ږژل شويو دومره سړه وه لکه دلته چي ښيادمان نه هسي ښيادم ته ورته ځراك وژل شوي وي .

نه هغه داضطراري جلـوريپوټونه وو نه په يوه درز دسپيني ماڼي نه ترلندن اوپاريـسه دهمدردي دپيغامونو لري اوته دداسي دردوونكو! پيښودمخنيوي په خاطر دفوق العاده غونډو اوامنيتي تدابيرو دنيول كيدو هڅي او هانند . بس يوتش

ريوټ ؤ، دمړو اوټپيانوشمارؤ اونورهيڅ .

ددومره لوي توپيراصلي لامل له دي پرته بل څـــه كيداي شي چـي كابليان كمزوري دي اويهوديان دشـړي بـاداران .

كابليان خوار اوبي قابده دي اويهوديان ددنيا ترټولو شتمن اوداقتصادي شاه رگونو واكمـن . دكابليانو ستر جرم همدغه دي اواوس تركمزوري او بي زعامته كيدو ستره گناه نشته دا اوس هـسي دكتابونو خبري دي چي دكمزوري وژل ستره گناه ده ، اوكمزوري مقتول به مظلوم يادبده . اوس ظالم اومجرم همدادي اوچي كمزوري شوبايد ووژل شي. كه نه ترودكابل دخلكو ددي بي هدفه مرگونو معني څه ده !!

ددوي پخوانيو قاتلانوخه ترلاسه كړل چي نوي به ئي تري ترلاسه كوي !!

خيره موديي بي بي سي دوياند دلهجي كوله ، هغه خوملامت نه دي، دهغه ددي سړي لهجي يو دليل بنايي داوي چي دوي ته په كابل كي دمرگ ژوبلي خبرنورددومره تكراري دي چي اصلاً ئي د«خبر» حيثيت

**له تکبیره ترفریاده**

له لاسه وركړي .

اوترډي هم مهم اوسترلامل بنايي داوي چي پخپله افغان دافغان دوينوحرمت نه ساتي په پردي راديو اوپرديو به ئي څه

پوه اچوو!

دبهودو دوينو دومره ستره غوغاخوپه دي هم وه چي ددوي ددښمنانوپه لاس تويې شوي وي . كه څه هم دښمن ددښمن وينوته تري دي او چي مو كـه په لاس ورځي خپل گوزاركوي دلته هم بده داده چي دروڼه يوډبل قاتلان دي بلكي ترډي هم بده داچي زور ور او دواك او ځواك خاوندان دخپلومظلومو، تش لاسواوترامراو اطاعت لاندي دروڼوپه وينو اوسرونولوبي كوي .

څكه خوپه پرديو راديوگانوته ددي اثره حادثي پـه څـــبر بوبي خونده اوله احساساتو اوهيجان پرته خبروي .

دكابل دوروستيو مرگونو ديوه عيني شاهدكيـــه ده چي يـوه ورځ الوتكي ا راغلي، هغه الوتكي چي لاري اوخاوندئي لامعلوم نه دي. په كابل ښاريې بمونه وغوروځول اوولاړي وركي شوي، دبمونوله درزهارنه وروسته چي كوكاري اوكړيكي هم وركي شوي داسي ښكاريده چي له سركوټو او كوڅونه هرچـا خپل خپل مړي اوټپي دوي دي ...ـسوي دبوټو دوراني دغاشاليپاره هغه ځاي ته ولاړو گورو چي لاانساني هډونه ټوك ټوك پراته دي ديوه تن يولاس چي په هډوكي پري شوي د راالوجت كړ، دبل لسري دپښي يوحو شړيدلي گوټي اوهډوكي ... اوهمدغـسي دلوبو اوړو ښيادمانوړبري غوښي او هډونه تيت پراته وو چي نه ئي ځاي چاپيژندلي شواي اوئه ئي هويت دمعلوميدوو. دوي چي نامعلوموا الوتكو وژلي اوټوك ټوك كړي وو همداسي بي وارثه ، بي گـــوره اوبي هويته پراته وو، زموږوطن دتراژيديو وطن دي دمرگونو وطن دي اودغـسي دمرگونواوماتونو كيـسي

په كي ډيري دي .

څوزه خپلي لومړي خبري ته راځم چي خبري ډيري سرپي يودي زمـوږ دمرگونو اوماتونو ترټولو ستردليل زموږ كمزوري اودكمزوري جرم دي، كمزوري يوازي دانه چي دټانگ اوتوپ خاوندان نه يو. كه داپه تش لاس ديري خولي، بوي ارادي اويوه زعامت خاوندان واي بيا بـه داسي نه كيدل. كه كابليانو څوك سرپرست اوقايد درلوداي ددوي دوينو دپوښتني اوداوښكو دپاكولو يوڅوك واي بيا بـه دمعلومو اونامعلومو ا پټواوښكاره ؤ ، خپلو اوپرديو وسلو له هرډول تيري اوگوزارنه په امن واي اوكه دوي وژل كيداي هم لېترلږه به ئي دقاتل پرځان دوينو خابونه پاتي كيدل، خوافسوس چي اوس زموږ وطن دداسي چاكور دي چي ككري لري لاسونه نه لري او چي لاسونه لري ككري نه ... چي زوولري رحم نـــه لري چي رحم اوانـساني مينه لري بيا ناتوانه اوبي خواكه دي .

## افغانان دبل چا غلامی نه منی

دشهادت اخبارکارکوونکو زموږ.له طرفه سلامونو اونیکی هیلی ومنی .

محترمو! دشهادت ورځپاڼه يوازني ورځپاڼه ده چي موږ.دافغانستان له حاله خبره وي . اوزموږ ډيره زياته هم خوښه ده موږ.په افغانستان كي بهرني لاس وهنه نه غواړو اوخپل اولس نه داغواړو چي پرخپل مـينځ كي سـره راټول شي .اوخپل هيواد بيرته ودان كړي . اودانړولي دنيـا ته ښكاره ده چي افـغانان دبل چا غلامي نه مني اوپو روښن مـثال د روس مداخله وه چي په افغانستان كي بي وكړه او بيا پرخپله هم خپل انجام ته ورسيدو .

موږ.په افغانستان كي دمجاهدينو قهرمانو يواسلامي حكومت غواړو چي په هغه كي هر تنظيم بايد برخه واخلي .

ولی چی دوی د افغانستان پاکه خاوره له پردیو لاسو څخه خلاصه کړی ده .

موږ.رباني صاحب ته دابل غواړو چي تا زموږ.وزان كرشوى كور والاو ته بيا د دوستي لاسونه وركړي . سـتادوستـان دافغانانو دوستان نه بلكه دښمنان دي . په گـران هيـواد كي چي اوس كم حـال او ويراني پيښـه ده په مـيليـونو افـغـانان مهاجر،كوندې ،اوشهيدان شوي دا هرڅه موږ.ته دروسيانو له لاس راپيښه ده .

اوهغه څوك چي له دوُسره ملگري كوي بايد دوُتول زموږ.له پاكـسي خاوري ته راپرنبږدي . والـسلام .

محمد کبیرنام – سـيدال وروكي – سليم – ملاعبدالشافي اوملاغلام رسول

**متصدی : میا اروال**

## یــــارب شــکـــن زنــــگ خــطــــر

ښاغلی عبدالقدیر سایس ازپوهنځی شرعیات پوهنتون اسلامی افغانستان ضم نامه خویش تحت عنوان فوق شعری برای نشر فرستاده بعد از سلام واحترام مینویسد

